(۲۴):- دریاب علي خېل ، د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصیات، مخ ۱۵۷(ناچاپ)

(۲۵):سېماب، شیر زمان ، په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ، د ایم فل قحقیقي مقاله، پېښور ځانګه پښور پوهنتون، مخ ۵ (ناچاپ)

# داجمل خټک اومیرګل خان نصیردشاعرۍ دمشترک افکارو جائزه

# Similarities of thoughts in the poetic works of Ajmal Khattak and Mir Gul Khan Naseer

Hassan Je Ashrat*


## Abstract:

Pakistan is multinational and multi lingual country. Approximately 20 languages are being spoken here. But being Pakistanis they are facing same socio political problems. As a result poets of different languages have a lot of similarities in their poetry. Ajmal Khattak and Mir Gul Khan Naseer although belong to two different areas and spoke different languages but there are a lot of similarities in their thoughts.

Being a prolific and versatile writer, they deeply loved Balochistan and Pakhtoonkhwa, lands of their birth, and its honorable and brave people and as such the deprivation of Pakhtoon and Balochs and the promotion of their language (Balochi + Pashtu) became the leitmotif of their poetry. To bring to the forefront the problems of Balochistan and Pakhtoonkhwa, they not only used the vehicle of poetry but also tried their hands at politics, journalism and historiography and devoted all their skills and energies to this end.

Both Ajmal Khattak and Mir Gul Khan were staunch and vocal supporters of the “Freedom Movement” and their poetry covers a period ranging from the era of World War I till the close of the twentieth century. They adopted a style of their own and their poetry is purposefully imbued with consciousness of all shades of modernity such as Marxism, Science, Freedom Movement, etc. Besides they eloquently spoke for the ordinary people of Balochistan and


* Director Eviromental Change Committee, Senate, Islamabad

Pakhtoonkhwa which makes it abundantly clear that they were acutely conscious of the class based society of Balochistan and Pakhtoonkhwa. Their nationalistic spirit urged them to participate vehemently in the 'Progressive Movement' and take active part in practical politics. Owing to their political views they were confined several times but they continued to write daring verses even behind the bars. As a representative poet of Balochi and Pashtu language they almost touched every strain of poetical thought but, as they were practically involved in politics, most of their poetic compositions carry a strong stamp of their personal socio-political considerations. A significant part of their poetry consists of nationalistic, progressive and revolutionary content.

شاعر د خپلې خاورې، قام او کلتور نه بېل خپلو خيالاتو ته نۀ شاعرانه جامه اغوستلئ شي او نۀ شاعرانه رنګ ورکولی شي . د خپل چاپېرچل حالات واقعات په شعوري توګه يا په لاشعوري توګه د هغۀ خيالات متاثر کوي . نن سبا په خاص توګه د سماجي اوسياسي بېدارۍ دور دی . جديد شاعرانو د خپلې خاورې او په دغه خاوره د اوسېدونکيو خلکو مسائل د خپلې شاعرۍ موضوع ګرځولې دي .

پاکستان چې د ډېرو نسلونو او ژبو ملک دی . دلته خواوشا شل ژبې وئيل کيږي خو د يو پاکستاني قوم په حېث د دغه ملک د خلکو ډېر سماجي او سياسي حقيقتونه او مسلې يو شان دي . ځکه خو د مختلفو ژبو شاعرانو په کلام کښې يوشانوالی ښکاري . په دغه ژبو کښې پښتو او بلوچي دوې داسې ژبې دي چې د چا دوو شاعرانو اجمل خټک او ميرګل خان نصير د خيالي شاعرۍ نه زياته د خپل قام محرومۍ د خپلې شاعرۍ موضوع ګرځولې ده . د پښتون او بلوچ د يو شان سماجي او سياسي کشالې د دغه نامتو شاعرانو په افکارو کښې د اشتراک سبب جوړ شوي دي . او اتفاق سره نن سبا هم دغه دواړه قامونه د يو شان حالاتو سره مخامخ دي .

اوس به د پښتو او بلوچې نوي ادب د دغه دواړو نامتو شاعرانو په فکرونو کښې د اشتراک يو جاج واخلو.

پښتون شاعر اجمل خټک د يو همه جهت شخصيت مالک ؤ . هغۀ يو ادبي او سياسي ژوند تېر کړئ دی . هغه يو ورسټائل شاعر ؤ . د دۀ په شاعرۍ کښې فکري او فني حوالې سره بېلا بېل رنګونه په نظر راځي . هغه په يو وخت هم د کلاسيکي رويو شاعر

دی او هم د دهٔ په شاعرۍ کښې جدید نقطه نظر شته. اجمل خټک د ستر خوشحال د کلاسيکي اسلوب او فکر نه ګټه کړې ده خو د هغهٔ شاعري د خپل ځانګړي رويو په بنياد د کلاسيکي شاعرۍ په شان نهٔ ښکاري بلکې د کلاسيکي طرز فکر سره سره په کښې څهٔ نوي رنګونه هم شته.

دې باره کښې ډاکټرعبدالله جان عابد وايي:

"اجمل خٹک ایک ایسی شاعر کی روپ میں ہماری سامنی آیا کہ جن کی ہاں کلاسیکی طرز حیات کی خوشبو تو موجود ہی مگر ان کا شاعرانہ اظہار قدامت پسند روایات کا حامل نہیں۔ وہ کلاسیکی طرز سخن سی جدید طرزِ احساس کی ایک ایسی شمع روشن کی ہوئی ہیں کہ ان کیہاں ماضی کا حال کی ساتھ ایک طرز احساس کو اجاگر کرتا ہی"(۱)

د اجمل خټک شاعري کلاسيکي اسلوب سره سره يو مزاحمتي او انقلابي آهنګ هم لري. کوم چې په جديدشاعرۍ کښې د هغهٔ حوالې سره داخل شوی دی. او ورستني شاعرانو د پاره د لارې مل جوړ شو او د هغهٔ نه پس د ډېرو شاعرانو د شاعرۍ رُخ او انداز بدل شو او پښتو جديد ادب کښې د "اجمل مکتب" پرانستل شو.

د اجمل خټک د شاعرۍ پېل د برصغير د تاريخ په يو داسې موړ شوی دی کوم وخت چې د انګرېزي استعمار پرخلاف د ازادۍ تحريکونه ښهٔ په زور او شور کښې لګيا وو. او د متحده هندوستان د هر ګوټ نه د قامي بېدارۍ اوازونه وچتېدل. په دغه زمانه کښې کهٔ يو طرف ته د خدايي خدمتګارو تحريک په خلګو کښې د قامي ازادۍ سياسي شعور پېدا کولو نو بل طرف ته متحده هندوستان کښې ادب نه ماضي پرستي او رجعت پسندي خيالاتو ختمولو او دې په ځای په کښې د لوړې تندې او د سماج د زوال او پستۍ او غلامۍ په شان د ژوند بنيادي مسلو ذکر د پاره د ترقي پسند شاعرانو مبارزو زور نيولی ؤ.

اجمل خټک په بنيادي توګه د ترقي پسند ګوند يو شاعر ؤ او په دغه تحريک کښې فيض احمدفيض، احمدنديم قاسمي، شېخ اياز او د بلوچستان ميرګل خان نصير هم په شان شاعران او اديبان د هغهٔ هم سفر وو.

میرګل خان نصیر هم لکه د اجمل خټک د یو کثیرالجهت او همه ګیر شخصیت مالک وۀ ـ د هغه وطن بلوچستان او د هغه خاورې غیورو خلکو سره ډېره مینه وه ـ دې له کبله هغۀ خپل ټول خدای ورکړي صلاحیتونه د بلوچستان د خوشحالۍ، پرمختګ نه علاوه د بلوچي ژبې ترویج د پاره وقف کړي وو۔ د دې مقصد له پاره هغۀ هم لکه د اجمل خټک په سیاسي مېدان کښې هم ودرېدو۔ هم یې صحافت د خپل اظهار وسیله جوړ کړو او هم د تاریخ لیکونکي په حېث هم خپلې متې وازمائیلې۔

میرګل خان نصیر لکه د اجمل خټک په شان د ازادۍ د جنګ یو سپاهي وۀ ـ هغۀ د جنګ عظیم اول نه د شلمې صدۍ تر اخر پورې شاعر ؤ ـ هغۀ په شاعرۍ کښې یو بېل طرز خپل کړئ ؤ ـ د هغۀ په شاعرۍ کښې طبقاتي حوالې ډېرې واضحه وي ـ یو عام بلوچ وګړي د ګل خان نصیر خاص موضوع پاتې شوی دی۔

اجمل خټک او ګل خان نصیردواړه په اصل کښې انقلابي، ترقي پسند،. عوامي او وطن دوست او غریب پروره شاعران او ادیبان وو۔ د دواړو شمېر په هغه لړو خلګو کښې کېږي چې د چا فن او عملي ژوند کښې دومره ژور ربط دی ـ دواړه په اولس کښې د خوښېدو سبب هم د هغوي ساده شاعري او د خپل اولس سره بې کچه مینه او خلوص دی۔

دواړه خپل خپل سیاسي او معاشرتي ماحول او چاپېرچل نه متاثر وو او د هغه وخت او حالاتو او واقعاتو اظهار یې په خپل کلام کښې کړئ دی۔

په سیاسي مبارزه کښې دواړه بیا بیا جېل ته لاړل او هلته یې هم خپل اولس د پاره اشعار ولیکل او نورې تحقیقي او ادبي هلې ځلې یې هم جاري وساتلې۔

دواړو د ظلم و جبر، استحصال او ناانصافۍ خلاف د مزاحمت بېرغ اوچتولو درس عوام ته ورکولو۔

اجمل خټک چې کله د نوکرۍ په غرض په کال **۱۹۴۸**ء کښې په پېښور کښې وسېدو نو د خپل همکارو ملګرو فارغ بخاري، رضاهمداني او خاطر غزنوي په وسیله د انجمن ترقي پسند مصنفین سره یې رابطه وشوه ـ او بیا دوی سره د دغه انجمن

محفلونو ته چې په محله خداداد پېښور ښار کښې به کېدل هم ورتلل شروع کړل ـ په دې هکله هغه خپله داسې وايي:

"په دغه ورځو کښې دهلي کښې د انجمن ترقي پسند مصنفين ډېر شهرت ؤ ـ د فارغ بخاري او رضاهمداني په ملګرتيا کښې زما د دوی سره رابطه جوړه شوه ـ هغه ځای نه باقاعده ماته لټرېچر رالېږلی شو ـ چې دهغې د لوستو په سبب زما د شاعرۍ پام د ټولنې تضاداتو او محرومې طبقې مظلوميت ته راوګرځېدو او ماته د پښتو روايتي شاعرۍ او قامي ازادۍ شاعرۍ کښې ترقي پسند خيالات او رجحانات شامل کول پرېوتل" (۲)

دغه شان اجمل خټک ته د ترقي پسند شاعرانواو اديبانو سره نشستونو او مباحثو موقع په لاس راغله او په هغۀ کښې يو ترقي پسند شاعر رابېدار شو او په ذهن کښې يې يو انقلابي بدلون راغلو. اجمل خټک کله چې د ادب تخليق کولو د پاره په شعوري توګه قلم راواخيستو هغه دور کښې ترقي پسند تحريک ښۀ په زور کښې ؤ. څنګه چې فيض احمدفيض، احمدنديم قاسمي او نورو شاعرانو اردو کښې غزل او نظم ته يو نوی رنګ ورکړو دغه شان اجمل خټک هم د دې کاروان د غړي په حېث پښتو غزل او نظم ته يو انقلابي رنګ ورکړو او د وخت د بدلون سره يې خپله شاعري هم آهنګه کړه ـ پښتو غزل او نظم کښې يې د فرضي حسن و عشق قيصو په ځای د زندګۍ حقيقتونه او غوښتونو ته ځای ورکړو. په خپلې يو رباعۍ کښې وايي:

زما دا خلۀ د ماتېدو ده منم
يو نه کۀ سل ځله ماتېږي واوره
د غريب خلۀ خو هسې هم ماته وي
خو ستا کاسه هم نسکورېږي واوره(۳)

اجمل خټک د دغه استحصالي نظام په ډېرو سختو لفظونو کښې غندنه کوي. د کوم لاندې چې د خپلو وينو اوبۀ کونکی دهقان خو د غربت عمر تېرولو باندې مجبور وي او

جاګیردار او سرمایه دار دې په دغه وینو عېش عشرت کوي ۔ دې نه په ټولنه کښې د محنت مزدوري کونکي استحصالي سوچ وده مومي ۔ دې سماجي تضاد باره کښې اجمل خټک خپل نظم "فېصله" کښې وايي:

ستا د خان کاکا په کور کښې زر امبار وي
او زما بچي دې خاورې ښتې خوار وي
ستا بېنکونه خو دې ورځ په ورځ پړسیږي
او زما وینه دې درنګ په درنګ وچېږي(۴)

د ترقي پسند نظريې مطابق د ادب او ټولنې هیرو یو وي ځکه خو ترقي پسند تحریک مزدور د سماج یو هیرو په شان د خلکو وړاندې پېش کړو۔ او د دغه مزدور د عظمت، لوړوالي نغمې يې ډېر جذباتي انداز باندې ووې ۔ ځکه ترقي پسند تحریک شاعرانو خپل ځانونه د مزدور طبقې سره وتړل۔ اجمل خټک د یو ګوجر مزدور بیان په خپل نظم "ګوجر" کښې داسې کړې دی۔

مېښې منم، د نواب صاحب دي
دې کښې خبره کول توان د چا دی
ولې ای ای د انسانانو ربه
دغه ګوجر غریب اسنان د چا دی

(۵)

اجمل خټک په شان میرګل خان نصیر هم یو ترقي پسند شاعر ؤ۔ هغهٔ هم لسم جومات پاس کولو نه پس نور تعلیم د پاره لاهور ته لاړو۔ اګر کهٔ هغهٔ د خپلې سترګې د ناروغتیا له کبله خپل تعلیم سرته ونهٔ رسولو خو د لاهور علمي، ادبي او ثقافتي ماحول نه ئې ډېر زیات اثر واخستو او چې کله نوشکي ته واپس راغلو چې یو ډېر زیات پاتې راغلی کلی ؤ، نو هغهٔ په لاهور او نوشکي کښې ډېر تضاد محسوس کړو۔ دا وخت په بلوچستان کښې هم د سیاسي بېدارۍ تحریک پېل شوی ؤ ۔ اصل کښې دې وخت کښې انګرېزان د بلوچستان مالکان جوړ شوي وو او د دغه ځای قبائیلي نظام د انګرېز حکمرانۍ ته ډېر ګټه ور ثابت شو۔ مقامي سردارانو د جرګو په ذریعه د خلکو سیاسي

او معاشي استحصال کولو. میرګل خان نصیر یو باشعوره او حساس انسان ؤ او دې حالاتو نه متاثره کېدل یې یو فطري امر ؤ. هغهٔ ته په دې حالاتو کښې د یو تماش بین په کښېناستل ممکن نهٔ ؤ. په بلوچستان کښې دې نظام په خلاف میرعبدالعزیز کرد او یوسف علي مګسي یو تحریک شروع کړی ؤ. ځکه ګل خان نصیر په شعوري توګه دې تحریک سره مل شو او هغهٔ د میرعبدالعزیزکرد او او میریوسف علي مګسي په قیادت کښې سیاسي او سماجي هلو ځلو سره سره شاعري هم د خپل اظهار وسیله جوړه کړه.

هم دغه حالاتو اثر لاندې ګل نصیر عوام ته مخاطب دی او د یو نوي سوچ زېری ورکوي او خپل یو نظم "نوکین شیری سنګتان" کښې داسې وایي:

**ژباړه**: "ملګرو ما یو نوی طرزسخن او نوی اواز راوړی دی
ما یوه نوې سندره او نوی د اظهار چل راوړی دی
ای درباري شاعرانو!
تاسو د باچاهانو او وزیرانو قصیدې لیکل پرېږدی
ملګرو! موږ سره یو ځای شي
دوستانو! د مظلومانو او مجبورو خلکو ملګري جوړ شی
خانان او امیران پرېږدی
مزدورانو، دهقانانواو محنت کشوسره اوږه په اوږه ودرېږی" (۶)

میرګل خان نصیر یوازې د بلوچستان په حالاتو خپل اظهار نهٔ کوي بلکې د اجمل خټک په شان ټول ملک او ټولې نړۍ کښې د طبقاتي فرق، لوټ مار او جبرو استحصال باندې هم خپلو خیالاتو اظهار کوي. هغه دا طبقاتي او استحصالي نظام د بدۍ جرړه ګڼي او د دې نظام واکدارانو، سردارانو، نوابانو، خانانو او سمګلرانو پرخلاف د جنګ ناره اوچته وي. هغه نهٔ یوازې جنګ کوي بلکې په مزدورانو، محنت کښو، شپنو او دهقانانو کښې د دغه استحصالي نظام پرخلاف عوامي شعور رابېداروي او هغوي ته دا احساس ورکوي چې دوي په خپل طاقت او محنت دا د

امیرانو بنګلې او محلونه جوړ کړي دي او د دوي په بنیادونو کښې د غریبانو او محنت کښو وینه شامله ده۔ دې باره کښې هغوي وایي۔

"دا بنګلې، محلونه او غټ غټ کورونه، دا رعب، دبدبه او د پېسو ډېروالې
چې د کوم په وجه دولت مند د عېش ژوند کوي
دا هر څۀ د ستا او زما له وجه دي" (۷)

میرګل خان نصیر هم هر وخت د خپل بلوچ قام د پاره په هلوځلو کښې بوخت ؤ۔ د هغۀ د ورځې مشقت هم د بلوچ قام د پاره ؤ او د شپې خوبونه یې هم د بلوچ د پاره پرېښلي وو۔ خپل یو نظم د "واب دیتګان" (خوب کښې مې ولیدو) کښې د خپل یو خوب ذکر کړی دی۔ هغه په خوب کښې جام درک کسي، خوب کښې جام درک د ګل نصیر نه د بلوچ عوام په باره کښې تپوس کوي، ګل نصیر ورته په جواب کښې وایي۔

ترجمه:

"ای میری شاعر گران مایه
حال دنیا کا گفتن تو نہیں
جتنی قدرین تھی سب ہوی تلپٹ
ہوس زر نی کردیا اندھا
کھیت مزدور کی طرح بدحال
جیسی بدحال کوی چرواھا" (۸)

پرګل خان نصیر هم لکه د اجمل خټک د استحصالي نظام پرخلاف مبارزه کښې د ذاتي رویو قائیل نۀ دي۔ ځکه هغه د ټولنې په برکنډاؤ ناست د دغه استحصالي نظام پرخلاف ځان سره مزدور، دهقان او شپون او خپل نور دغه شان دوستانو ته هم بلنه ورکوي او وایي:

ترجمه :

ساتھیو!عزم جوان لی کی اٹھو

سرخ پرچم کا نشان لی کی اٹھو(۹)

**انقلاب او عوامیت**:

د چا شخصیت په جوړېدو کښې د هغۀ په فکر و عمل کښې نظریاتي پوخوالی ډېر اهم رول لوبوي۔ اجمل خټک او میرګل خان نصیر دواړه عملي نظریاتي توګه ترقي پسند کېدو سره سره کټر انقلابي او عوامیت پسند وو۔ د اجمل خټک په شاعرۍ کښې د دغه شان نظمونو شمېره ډېره زیاته دی په کومو کښې چې هغۀ د انقلاب بېرغ اوچت نیولی دی۔ دغه نظمونه او په دې نظمونو کښې چې کوم انقلابي رنګ دی هغه د عوامو په زړونو کښې ډېر جوش او ولوله پېدا کوي۔ د اجمل خټک د شاعرۍ دا یو غټ کمال دی د هغۀ په شاعرۍ کښې ډېر زیات انقلابي شعرونو په باوجود د سیاسي نارې بازۍ نه محفوظ دی۔ ځکه چې د اجمل خټک دغه سیاسي شعرونو کښې ډېر په باشعوره انداز سره حساس او دردناک احساسات ډېر فنکارۍ سره یو ځای کړي دي۔ دې له کبله د اجمل خټک شاعري د یو سیاسي ګوند پروپېګنډه نه بلکې د ټول پښتون قام میراث دی۔

اجمل خټک د خپل غریب او پاتي راغلي قام حالات بدلون په خاطر د قصابي، خوني او استحصالي نظام پرخلاف چې کومې مبارزې وکړې او په دې لار کښې ورته کوم مشکلات مخې ته راغلل دا ځان ته یو تاریخ دی۔

د ویخ زلمي سندره کښې وایي۔

د وخت په چغه باندې -رابېدا شوی یمه
د ظلم جوړ تور تم مې-اوس تېرباسلی نۀ
شي
د انقلاب لمبې مې -دي په رګ رګ کښې
بلې

د زردارانو پُوکي -يـې سـړولې نـۀ
شي(۱۰)

کۀ چرې موږ د اجمل خټک شاعري د خپل هم عصرو شاعرانو سره وتلو نو نۀ يوازې د مقدار او معيار له رويه درنه او ستره ده بلکې فکروفن له رويه هم ډېره اوچته ده ـ اجمل خټک په خپل شعر کښې هم لکه د سياست په شان يو انقلابي ببرغ اوچت کړی دی۔ او په شعر کښې هم د خپل اولس محرومۍ ، بې وسۍ او ورکې سپکې او د خواريکښې طبقې ترجماني يې کړې ده ـ او په ښۀ انقلابي او عوامي انداز کړې ده ـ

ملګـرو تـش پـه لوګېـدو ونـۀ شـوه
ځی چې لمبه شو دا خپل ځان وسوزوو
د نـوي ګـل د خصـماني د پـاره
دا زوړ خـوړلی ګلسـتان وسـوزوو
(۱۱)

د اجمل خټک د انقلاب دا اعلان داسې وخت کښې مخې ته راځي کوم وخت چې په ټول برصغير کښې د سماجي، معاشرتي، معاشي، سياسي او تهذيبي ژوند کښې بدلون روان ؤ۔ په خاص توګه پښتون قام په دغه وخت کښې د خپل ماضي تشخص بحران سره مخامخ ؤ ـ په دغه بحراني کېفيت کښې اجمل خټک عوامي شعور رابېدار کولو د پاره يو موثر اواز اوچت کړو۔ دلته اجمل خټک د يو داسې انقلابي او عوامي شاعر په شکل کښې څرګندېږي چې د انقلاب په شا کښې د ټولنې تهذيبي او روحاني قدرونه وران نۀ کړي بلکې د دغه قدرونو لحاظ کولو سره د مثبت بدلون کوشش کوي ـ په دې لړ کښې هغه وايي ـ

غـټـان غـټـان نېکـان نېکـان پېـدا دي
دوي خـو لـه ځـايـه جنتيـان پېدا دي
ځـی هغـه خـوارو لـه جنـت وګټـو
څـوک چـې د مـوره دوزخيـان پېـدا
دي(۱۲)

خلاصه دا چې د اجمل خټک شاعري د انساني نيشت والي، بې وسۍ او د خپل وطن د بې اختياره ژوند خلاف د بېدارۍ يوه داسي ناره ده چې انسان ته د جابر او ظالم نه د خپل حق اخستلو او غاصب نه په خپل وطن د واک ترلاسه کولو او خپل حالت په خپله د بدلولو هڅه او تحريک ورکوي. خو اجمل خټک په ذهن کښې د سياسي انقلاب معنا هغه نۀ ده چې په کوم انقلاب کښې وينه تويول ضروري وي نا بلکې د اجمل هغه په سياسي انقلاب کښې د وينې تويولو هيڅ عمل دخل نشته. يعني د عوام په مرسته او حمايت يو مثبت بدلون نوم انقلاب دی. دې باره کښې هغه وايي.

ګلونه به په وينه غوړوو مخکښې به ځو
په سر به د غر لارې جوړوو مخکښې به ځو
بس توره شپه اوس نشته دا د ظلم تور لوګی دی
ډيوې به مو د زړونو بلوو مخکښې به ځو
(۱۳)

**ميرګل خان نصير، انقلاب او عواميت**:

اګر کۀ د بلوچي ادب په مزاج کښې له اوله د سماجي او طبقاتي شعور عنصر د يو توانا روايت په حېث موجود ؤ. ګل خان نصير په خپلي شاعرۍ کښې دغه روايت ته يو فکري او شعوري بُنسټ وروبخښلو.

ميرګل خان نصير په شان عوام دوست او انسان دوست شاعر ته د ترقي پسند او انقلابي تحريک نه متاثر کېدل يو فطري امر ؤ. ځکه چي هغه وخت د هندوستان عام دانشوران د برطانوي سامراج پرخلاف د ازادۍ حصول په هلوځلو کښې په متحده توګه بوخت ؤ.

د ميرګل خان نصير بلوچي شاعرۍ کښې په خاص توګه د شپ ګروګ شاعرۍ کښې په واضح توګه د سوشلسټ نظرياتو او تصوراتو اثر په نظر راځي. چونکې د کارل مارکس جدلياتي ماديت نه متاثره ؤ ځکه هغۀ د سماجي ژوندون د کشمکش ته د طبقاتي لوټ مار او سرمايه دارانه استحصال په نظر ګوري.

نوی بلوچي ادب په حواله ګل نصیر هغه اولنی شاعر دی کوم چي بلوچي شاعرۍ کښې په اول ځل د انکار، احتجاج، بغاوت، مزاحمت او د انقلاب بنیاد کېښودۀ ـ د هغۀ شاعري د سیاسي دباؤ، جبر و تشدد، د برابرۍ نشتوالی، ناانصافي او د استحصال پرخلاف یو احتجاج حېثیت لري ـ هم دغه احتجاج او انکار د ګل نصیر د انقلاب او عوامیت نشان دی ـ په خپل یو نظم "استمان شایر" یعني د عوام شاعر کښې هغه د خپل فن د سمت تعین کړی دی او په واضح طور یې په یوازې مجبورو خلکو سره د خپل یو والي اظهار کړئ دی بلکې دا خبره یې په ډاک کړئ دی چې کوم شاعر د عوام شاعري نۀ کوي هغه شاعر او تخلیق کار نه بلکې د مصلحتونو او خواهشاتو غلام دی ـ

"مجھی حیف ہی کہ میں ان حالات میں گل و بلبل کی شاعری کروں
زلف و کاکل او مخمور نگاہون کیتر انی لکھوں
محبوباؤں کی محفلوں اور راز و نیاز کی باتیں کروں
میں افتادگان خاک کا شاعر ہون
میرا قلم تو عصایي موسی ہی
جو فرعونوں پر قھر بن کر ٹوٹیگا"(۱۴)

هر شاعر د خپل چاپېرچل کښې حالاتو نه متاثر کېږي او خپلې شاعرۍ د پاره روحاني خوراک دغه حالاتو نه ترلاسه کوي ـ ځکه هغه د خپل چاپېرچل حالاتو نه لا پروا نۀ شي پاتې کېدی ـ ګل خان نصیر د بلوچ قام قامي روایت په مطابق باندې عمل کولو چې شاعر په خپله مېدان جنګ کښې جنګېدلو. ګل خان نصیر شاعرۍ سره سره یو عملي سیاستدن هم وۀ او په عملي توګه د قام په جنګ کښې برخه اخستې وه ـ ډېرې قربانۍ یې ورکړې وې ـ د سردارانو په باره کښې کوم چې هغه د استحصالي قوتونو استاذي ګڼي هغه وایي ـ

"بچی رورونیں گنوائیں
بوڑہی در در ٹھوکریں کھائیں
چھپ چھپ ماہیں نیر بھائیں
بھیک ملی نہ ادھار

راج کری سردار(۱۵)

**ګل خان نصير** چونکې عوامي شاعر ؤ ځکه يې ډېر عوامي ژبه کښې خپل انقلابي پېغام، خپله نظريه او فلسفې نه ډکې خبرې ډېر په اسانه لهجې کښې خلکو ته رسولي دي۔ د خپل يو نظم من باګي آن کښې يې ډېر په سليس انداز کښې د تندر و طوفان په شان خبرې کړې دي۔ دې نظم کښې **ګل خان نصير** ډېر په فنکارانه انداز کښې د عوام د حريت جذبه راپارولې ده۔ او ډېر په مهرت سره يې د صداقت او جدوجهد سبق عوام ته ورکړي دی۔

ترجمه:

زۀ باغي يم زۀ باغي يم زۀ باغي يم
زۀ اور يم بجلي يم شمشېر يم
زۀ توپ يم بم يم او انتقام يم (۱۶)

د **ګل خان نصير** شاعرۍ مخاطب عوام دی په دې کښې هيڅ شک نشته چې هغه يو داسې شاعر ؤ چاچې خپلي خاوري د بقا او عوام خوشحالۍ دپاره نۀ يوازې د قامي شاعر په حېث د قامي ارزوګانو او خوبونو پوره پوره نمائندګي وکړه بلکې په دغه مبارزو کښې نېغ په نېغه شرکت هم وکړو او عوام سره يې د خپلې ميني عملي ترون اظهار هم وکړو۔وايي۔

ہم ننگ ونام کی مالک وہ بلوچ ہیں
جو جنگوں میں ہمیشہ ثابت قدم رہی ہیں
اب ہم ان غنڈوں کی سامنیجھک جائیں
ایسا نہیں ہو سکتا! (۱۷)

بلوچ عوام سره ټينګ ترون او کمټمنټ په وجه **ګل خان نصير** ته نۀ يوازې د بلوچې قامي او ثقافتي شاعر اعزاز حاصل دی بلکې هغه په يو وخت د بلوچ قام د ثقافتي تحريک سرخېل شاعر، اديب، مؤرخ، محقق، سياستدان، دانشور او صحافي سره

سره یو عام بلوچ وګړی هم دی حالانکې د هغهٔ تعلق د سردارخېل قبیلې سره وهٔ خو دا د هغهٔ عظمت او لوړوالی دی چې هغهٔ د خپلې لوړې طبقې نفي وکړه او راغلو د عوام په صف کښې ودرېدو. او تر اخر پورې عوام سره ولاړ پاتې شو. ګل خان نصیر یو بلوچې نظم "اعلان" کښې داسې اعلان کوي

ترجمه:

چاہی ہم بھٹکی ہوی ہوں
ہم چاہی کسی کھڈ میں جا گریں
یاپی آب وگیا صحراؤں اور جنگلوں
میں کھو کر غارت ہو جائیں
لیکن ہم اپنی رہبری کی لیی
غداروں کو کبھی قبول نہیں کرینگی (۱۸)

لنډه دا چې ګل خان نصیر یو نهٔ وېرېدونکی انسان ؤ او خپله خبره به یې د څهٔ ډار نه بغېر کوله او عوام ته به یې رسوله۔ وایي۔

ترجمه :

تم چاہی اسکی زبان کھینچ دو
چاہی اسکی آنکھیں پھوڑ دو
نصیر جب تک زندہ رہی گا
اس کی اشعار میں
تلوار کی کاٹ بر قرار رہی گا (۱۹)

**قوم پرستي**:

اجمل خټک او ګل خان نصیر دواړو کښې یو بل قدر چې کوم مشترک وهٔ هغه د قوم پرستۍ وه۔ د یو قام پرست شاعر په حېث د اجمل خټک شاعری د قامي محبت، حریت

او شجاعت، غیرت او همت جذباتو نه ډکه ده. د خپل قام غیرت یې خپلې سینې سره ټینګ نیولی دی. وایي.

عیش د دنیاګۍ دی کۀ عشرت د زمانې دی
ما ترې غوره کړی ټول دا ستا د یارانې دی
ما د مصلحت شینکي باغونه غورځولي دي
ستا د غم داغونه مې په زړۀ پورې نیولي دي
ستا د عشق بدل کښې کۀ چا تخت راته ښودلی دی
ما د لېونو غوندې په لته غورځولی دی

(۲۰)

د اجمل خټک د کلام یو یو لفظ نه د پښتون قام سره د بې کچه مینې خوشبویي راځي. یوازې په شاعرۍ کښې نه بلکې اجمل خټک په عملي توګه دا خبره ثابته کړې دی چې هغه د پښتون قام په محبت کښې ښه غټه عهدې ته لته ورکولې شي. د جنرل پروېز مشرف په مارشل لاء حکومت کښې اجمل خټک ته جنرل مشرف د کابینې وزیرانو یو لسټ ورکړو او ورته یې ووئیل چې تۀ د دې کابینې سره وزیراعظم یې خو اجمل خټک خپل قام سره غداري قبوله نۀ کړه او دا پېشکش یې قبول نۀ کړو. ورستو هم دغه جرم کښې د خپلې پارټۍ نه اوویستل شو.

د پښتون قام سره مینه د اجمل خټک په وینه کښې شامله دی. د پښتون قام زبون حالي، د علم و حکمت نه لاپرواییي او په خپلو کښې انتشار د هغۀ نه نۀ شي لیدل کېدی. اجمل خټک پښتون قام یو اسوده حال او د علم دولت نه مالامال او د یو اتفاق نه ډک قام لیدلو ارزومند دی. هغه چونکې یو کلک مسلمان پښتون دی ځکه هغه د خپل قام د پاره خدای پاک نه داسې دعا کوي.

لویه خدایه لویه خدایه
دا تیَارې په موږ رڼا کړې
وروروليي راکښې پېدا کړې

دا چــې تــا يُــو پيــدا کــړي
د غيـــرت نـــه ډک مړونـــه
دا خـــــورې ورې تبــــرې
دا تـــس نـــس پراتـــۀ خپلونـــه
د يـــو لاس دا خـــورې ګـــوتې
رايو ځایی په مينه بيا کړې
لويـــه خدايـــه لويـــه خدايـــه
(۲۱)

اجمل خټک په بار بار خپل قام ته د اتفاق و اتحاد سبق ورکوي۔ هغۀ ته په پښتنې ټولنې نااتفاقۍ او انتشار ډېر زيات احساس او غم وو۔ په دې لار کښې هغۀ شاعرۍ سره سره عملي ګامونه هم پورته کړي وو۔ يو نظم کښې وايي۔

يـــه پښـــتنو! يـــه لېونـــو پښـــتنو
يـــه تـــس نـــس شـــويو پرګنـــو پښـــتنو
راځـــی پـــه کـــور کښـــې مرکـــه شـــو ســـره
د سيالۍ وخت دی چې جرګـه شـو سـره
دنيـــا بـــدلېږي ورتـــه ځـــان بـــدل کـــړو
دغه د ظلم زوړ جهان بدل کړو(۲۲)

**ګل خان نصير او قوميت**:

ګل خان نصير هم په يو وخت عوام دښمن سردارانو او انګرېزي استعمار سره په جنګ وۀ او د غلامۍ نه يې د نفرت اظهار کولو۔ د خپل ملک د ازادۍ خوبونه يې ليدل۔ هغۀ د ملک ازادۍ نه وړاندې د ازادۍ شاعري کوله خو چې کله زموږ ملک د انګرېز د غلامۍ نه ازاد شو خو ګل نصير وليدل چې د هغۀ وطن په اصل کښې ازاد نۀ شو صرف د حکمرانانو شکلونه او نومونه بدل شو د استحصال انداز بدل شو نو ګل نصير دا هرڅۀ برداشت نۀ کړی شو هغۀ په داسې حالاتو کښې د خپل قلم څُوکه تېره کړه او په وطن دښمن حکمرانوں خپل قلم سره حملې شروع کړې۔

د ګل تعلق اګر کۀ خپله یو سردار خاندان سره وۀ خو یو ازاد پسند قام پرست انسان وۀ ځکه شروع ورځې نه د سرداري نظام او جرګه سستم خلاف اواز پورته کړو.

ہماری شومی قسمت کی تصویر ہی جرگہ
بلوچوں کو مٹانی کی یہ ایک تدبیر ہی جرگہ ۲۳

ګل نصیر اول اول په قبائیلي رنګ کښې شاعري کوله خو ډېر زر یې دغه قبائیلي رنګ په قامي رنګ بدل کړو او عملي قام پرست سیاستدان جوړ شو دغه شان د هغۀ قامي شاعري او قوم پرست سیاست سره یو ځای شول۔ د اجمل خټک په شان ګل خان نصیر هم د خپلې بلوچۍ شاعرۍ ابتدا د یوې دعا نه کوي

اردو ترجمه:

ای خدا بلوچوں میں ایک ایسا جوان پیدا کر
پر مغز جان نثار، زندہ دل اور روشن خیال ہو
اس کی بصیرت سمندروں کی طرح بی پایان و بیکراں ہو
فرسودہ رسم و رواج او قصہ کہن سی اس کی سوچ آزاد ہو (۲۴)

په بره بیان شوي صفحاتو کښې د اجمل خټک او ګل خان نصیر په شاعرۍ کښې موجود فکري اشتراکاتو باندې تفصیل سره بحث وکړی شو۔ د دې بحث رڼا کښې موږ دا جار سره وئیلی شو چې دواړه شاعران په شاعرۍ کښې د ترقي پسندۍ، انقلاب او عوامیت او قام پرستۍ رنګ ډېر جوت او ښۀ ښکاره په نظر راځي۔ دواړو نۀ یوازې په فکري توګه د مشترک افکارو اظهار کړی دی بلکې په عملي توګه یې هم په سیاسي مېدان کښې کامونه پورته کړي دي او د خپل قام خدمت یې کړی دی.

## حوالي


۱. عبدالله جان، عابد، اجمل ختک، شخصیت اورفن، اسلام آباد، اکادمي ادبیات پاکستان، ۲۰۰۷، ص ۷۷
۲. ایضاً ص ۲۳، ۲۴
۳. اجمل ختک، د غېرت چغه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، فروري ۲۰۰۲، ص ۱۳۳
۴ـ اجمل ختک، ګل پرهر، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، س ن، ص ۸۷
۵ـ اجمل ختک، د غېرت چغه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، فروري ۲۰۰۲ ص، ۵۱
۶. میرګل خان، نصیر، شپ ګروګ، کراچی، بلوچي اکیډمي، ۱۹۲۴، ص ۷، ۲
۷ـ میر گل خان، نصیر، گرند، مستونگ، قلات پبلیشرز، ۱۹۷۱، ص، ۱۵۱
۸ـ میر گل خان، نصیر، شنبلاک، کوئټه، بلوچی اکیډمی، ۱۹۶۴، ص، ۲۱-۲۲
۹ـ میر گل خان، نصیر، کارواں کی ساتھ، کوئټه، میر درد پبلي کیشن، ۲۰۱۱ءص، ۱۰۶
۱۰ـ اجمل ختک، د غیرت چغه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، فروري ۲۰۰۲، ص، ۹

۱۱۔ ایضًا، ص، ع
۱۲۔ ایضًا
۱۳۔ عبداللہ جان عابد، اجمل خټک شخصیت اور فن ص ۹۵-۹۶
۱۴۔ میر گل خان نصیر، شب گروک، بلوچي اکېډمي، کراچي، **۱۹۶۴**ء، ص، ۳۱-۳۳
۱۵. میر گل خان،نصیر،کارواں کی ساتھ،کوئټه،میر درد پبلی کېشن، ۲۰۱۱ءص ۶۵
۱۶۔میر گل خان،نصیر،گرند،مستونگ،قلاتپ پبلشرز، ۱۹۷۱، ص، ۱۱۱-۱۱۳
۱۷۔ گل خان نصیر، حون ءِ گوانک، ترجمه پرویزسلیم بلوچ، عوامي ادبي انجمن کراچي، **۱۹۸۸**،ص
۱۸۔ ایضًا ص
۱۹۔ ایضًا ص
۲۰۔ عبداللہ جان عابد، اجمل خټک شخصیت اور فن ص ،۸۳
۲۱۔ اجمل خټک، د غېرت چغه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، فروري **۲۰۰۲**، ص،۱۰۵
۲۲۔ ایضًا ص
۲۳۔ میر گل خان،نصیر،کارواں کی ساتھ،میر درد پبلي کیشن، ۲۰۱۱ءص۳۰
۲۴۔ میرگل خان، نصیر، گلبانگ، (دومی چاپ) کرچی، بلوچ دود ءُ ربدگي ءَ بت لويي انجمن، **۱۹۹۹**، ص **۲**

## ټپه او قومیت

TAPPA AND NATIONALISM

Abaseen Yusafzai

**Abstract:**

Tappa is the unique, basic and most popular genre of Pashto poetry. It has specific meter and syllables. Subjectively, it